DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

بلخ
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکټوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



په بلخ ولایت کې ۲،۰۷۹ داخلي بېځایه شوي او راستنېدونکي په خیمو او آزاده فضأ کې ژوند کوي. دا داخلي بېځایه شوې کورنۍ د جنګ له امله بېځایه شوې او د سم پناه ځای، اوبو او حفظ الصحوي آسانتیاو له نشتون څخه رنځ وړي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماتیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کېوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

په ۲۰۱۸ کال کې د بودجوي محدودیتونو او د داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو ټیټ شمېر له امله بلخ ولایت ارزول شوی نه وه. له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د راپور ورکونې هېڅ معلومات نشته او په پایله کې یې په دې راپور کې ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښیي.

**۱۶** ولسوالۍ وارزول شوې

**۶۰۰** کلي وارزول شول

**۲،۹۱۳**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۰۹،۸۴۵**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۷۱،۶۶۲**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۹،۳۲۹**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۷۹،۰۸۱**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۴،۷۸۷**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۹٪)

**۲،۰۷۹**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۴ څخه ۱**
په بلخ ولایت کې ۲۶٪ داخلي بېځایه شوي او راستنېدونکي نهر شاهي ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۱۰،۹۲۰**
کسان (۹۰٪) په زري ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۱،۷۳۵**
کسان (۹۷٪) په زري ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۰،۹۳۷**
کسان (۹۰٪) په زري ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مزار شریف | ۴۵۴,۴۵۷ | ۱۳,۴۱۸ | ٪۳ | ۶,۸۵۲ | ٪۱ | ۰ | ٪۰ | ۶,۵۶۶ | ٪۱ | ۱۴ | ٪۰ | ۷,۸۴۴ | ٪۲ |
| نهر شاهي | ۴۹,۰۱۶ | ۴۷,۳۷۶ | ٪۴۹ | ۲۴,۱۶۹ | ٪۲۵ | ۷۲۱ | ٪۱ | ۲۳,۲۰۷ | ٪۲۴ | ۱,۰۳۶ | ٪۲ | ۱۹,۶۶۳ | ٪۴۰ |
| شورتیپه | ۴۳,۲۴۳ | ۴,۱۲۰ | ٪۹ | ۳,۴۸۱ | ٪۷ | ۰ | ٪۰ | ۶۳۹ | ٪۱ | ۶۷ | ٪۰ | ۲,۰۲۴ | ٪۵ |
| دولت آباد | ۱۱۴,۸۵۳ | ۸,۷۳۶ | ٪۷ | ۶,۹۳۷ | ٪۶ | ۱,۴۴۹ | ٪۱ | ۱,۷۹۹ | ٪۱ | ۱,۷۵۰ | ٪۲ | ۵,۵۳۰ | ٪۵ |
| بلخ | ۱۳۱,۲۱۸ | ۱۶,۴۵۲ | ٪۱۱ | ۱۰,۱۴۵ | ٪۷ | ۱۵۴ | ٪۰ | ۶,۳۰۷ | ٪۴ | ۱,۶۰۳ | ٪۱ | ۶,۰۶۱ | ٪۵ |
| دهدادي | ۷۳,۶۵۲ | ۱۴,۱۱۳ | ٪۱۶ | ۳,۲۷۹ | ٪۴ | ۴۰ | ٪۰ | ۱۰,۸۳۴ | ٪۱۲ | ۰ | ٪۰ | ۳,۲۰۰ | ٪۴ |
| چارکنت | ۴۸,۵۰۲ | ۱,۴۴۹ | ٪۳ | ۱,۳۳۰ | ٪۳ | ۶۷۲ | ٪۱ | ۱۱۹ | ٪۰ | ۹۴ | ٪۰ | ۲,۶۶۵ | ٪۵ |
| مارمل | ۱۲,۴۴۷ | ۱,۱۴۵ | ٪۸ | ۹۷۷ | ٪۷ | ۱۶۱ | ٪۱ | ۱۶۸ | ٪۱ | ۳۹۹ | ٪۳ | ۵۸۴ | ٪۵ |
| خلم | ۷۹,۴۷۱ | ۱۷,۰۹۰ | ٪۱۸ | ۱۷,۰۹۰ | ٪۱۸ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۳,۲۸۱ | ٪۴ |
| کلدار | ۲۱,۸۱۴ | ۴,۶۰۱ | ٪۱۷ | ۴,۶۰۱ | ٪۱۷ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۲,۲۶۷ | ٪۱۰ |
| شهرک حیرتان | شتون نلري | ۱,۷۶۶ | شتون نلري | ۱,۷۶۶ | شتون نلري | ۰ | شتون نلري | ۰ | شتون نلري | ۰ | شتون نلري | ۳۹۴ | شتون نلري |
| چاربولک | ۸۸,۴۰۸ | ۱۴,۲۸۹ | ٪۱۴ | ۹,۹۸۴ | ٪۱۰ | ۲۱۰ | ٪۰ | ۴,۳۰۵ | ٪۴ | ۲,۹۳۳ | ٪۳ | ۵,۰۲۳ | ٪۶ |
| چمتال | ۱۰۰,۰۸۶ | ۳,۱۲۷ | ٪۳ | ۱,۱۹۵ | ٪۱ | ۵۰۶ | ٪۱ | ۱,۹۳۲ | ٪۲ | ۵,۹۷۰ | ٪۶ | ۱,۰۴۰ | ٪۱ |
| شولګره | ۱۲۴,۶۹۷ | ۸,۸۲۸ | ٪۷ | ۳,۶۳۸ | ٪۳ | ۲,۱۰۳ | ٪۲ | ۵,۱۹۰ | ٪۴ | ۱۷۷ | ٪۰ | ۳,۵۸۱ | ٪۳ |
| کشنده | ۵۳,۱۲۲ | ۱۲,۹۰۹ | ٪۲۰ | ۶,۲۹۴ | ٪۱۰ | ۲,۳۹۴ | ٪۵ | ۶,۶۱۵ | ٪۱۰ | ۱,۹۲۰ | ٪۴ | ۸,۱۸۵ | ٪۱۵ |
| زاري | ۴۷,۸۶۱ | ۱۲,۰۸۸ | ٪۲۰ | ۸,۱۰۷ | ٪۱۴ | ۵,۱۳۸ | ٪۱۱ | ۳,۹۸۱ | ٪۷ | ۳,۳۶۶ | ٪۷ | ۷,۷۳۹ | ٪۱۶ |
| مجموعه | ۱,۴۴۲,۸۴۷ | ۱۸۱,۵۰۷ | ٪۱۱ | ۱۰۹,۸۴۵ | ٪۷ | ۱۳,۵۴۸ | ٪۱ | ۷۱,۶۶۲ | ٪۴ | ۱۹,۳۲۹ | ٪۱ | ۷۹,۰۸۱ | ٪۵ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداری *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



چمتال ولسوالۍ د ولایت په کچه دومه ولسوالۍ ده چې تر ټولو زیات هغه داخلي بېځایه شوي لري چې د پناه ځای مرستو ته اړتیا لري. د پناه ځای اړتیاوو سربېره اوبه او حفظ الصحوي آسانتیاوې د چمتال ولسوالۍ زیانمنو وګړو ته تر ټولو اړینې اړتیاوې شمېرل کېږي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلارّ

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدني تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوي فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تر کتنې او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکټرونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړني ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.


## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خوځښتونو او خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو غوښتل غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.


DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جنډر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په بلخ ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۳٪ یې ښځې دي.

- **۲,۹۱۳** کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه
- **۴۳** کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱٪)
- **۸۹** ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳٪)
- **۱,۱۹۲** له کورنۍ ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۴۱٪)
- **۲,۸۲۴** نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۷٪)
- **۲۳۲** خوسکتوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۸٪)
- **۴,۹** په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر
- **۸۸۷** له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۰٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | بلخ




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | بلخ



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هیوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاړواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاړواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه بلخ ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۴۳٪ زیاتوالی شیي خو په ۲۰۱۷ کال کې ۹٪ کموالی شیي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د راستنېدونکو هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر شیي).

**۱۰۹،۸۴۵**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۴۳،۳۶۶**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۳۹٪)


**۸۵،۷۴۳**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۸۳٪)


**۵۹،۴۶۷**
ایران څخه راستنېدونکي (۵۴٪)


**۱۷،۰۹۰**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۱۷٪)


**۷،۰۱۲**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۶٪)




# رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شویو/ کورنیو ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښيي).

**۷۱،۶۶۲**
په کورنۍ ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان

**۸۷٪**
د کړکیچ له امله بېځایه شوي


**۲۳،۲۰۷**
نهر شاهي ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۳٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي

**۴۴٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | بلخ





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | بلخ




د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | بلخ




رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | بلخ




# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

په عمومي توګه بلخ ولایت له ټولټال ۱۸۱،۵۰۷ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي چې ۶۱٪ (۱۰۹،۸۴۵ کسان) راستنېدونکي او ۳۹٪ (۷۱،۶۶۲ کسان) داخلي بېځایه شوي دي. په لاندې جدول کې د بلخ ولایت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زیاتو بېځایه شویو او راستنېدونکو راتګ څخه اغیزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د بلخ ولایت ۶۰۰ ارزول شویو کلیو څخه ۳٪) د ټول ولایت ۲۰٪ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوي حساس او زیانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودو شویو سرچینو او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زیانمنو کلیو څخه ۱۰ کلي یې په نهر شاهي ولسوالۍ کې موقعیت لري او د دې جدول ۶۶٪ (۲۴،۱۰۹) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.


### ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري

| درجه بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | سجادیه | نهر شاهي | ۹,۹۲۸ |
| ۲ | کمپ سخي | نهر شاهي | ۳,۰۸۷ |
| ۳ | نوآباد شیر حولیا | دهدادی | ۲,۹۶۵ |
| ۴ | پروژه شهزاده | نهر شاهي | ۲,۳۶۴ |
| ۵ | چهل دختران سفلا | نهر شاهي | ۱,۸۲۰ |
| ۶ | رباط سنګی | چمتال | ۱,۴۵۸ |
| ۷ | نور خدا | نهر شاهي | ۱,۳۸۵ |
| ۸ | بلاک نور خدا ۲ | نهر شاهي | ۱,۱۹۵ |
| ۹ | فقیر آباد | نهر شاهي | ۱,۱۹۴ |
| ۱۰ | انصاري (۶) | مزار شریف | ۱,۱۸۸ |
| ۱۱ | قباط السلام | مزار شریف | ۱,۰۹۵ |
| ۱۲ | کارته وحدت | نهر شاهي | ۱,۰۷۶ |
| ۱۳ | کارته خراسان | نهر شاهي | ۱,۰۷۵ |
| ۱۴ | مهاجر قشلاق افغانیا | شولګره | ۱,۰۶۹ |
| ۱۵ | نوآباد یکه توت | دهدادی | ۱,۰۴۳ |
| ۱۶ | تیمورک | چار بولک | ۹۹۰ |
| ۱۷ | علي آباد | نهر شاهي | ۹۸۵ |
| ۱۸ | شهرک حولیا (۲) | مزار شریف | ۹۷۹ |
| ۱۹ | شهرک حولیا | مزار شریف | ۹۵۵ |
| ۲۰ | شپوله | بلخ | ۹۳۴ |
| | | مجموعه | ۳۶,۷۸۵ |





### ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| نهر شاهي | ۲۴,۱۶۹ | ۲۳,۲۰۷ | ۴۷,۳۷۶ |
| خلم | ۱۷,۰۹۰ | ۰ | ۱۷,۰۹۰ |
| بلخ | ۱۰,۱۴۵ | ۶,۳۰۷ | ۱۶,۴۵۲ |
| چاربولک | ۹,۹۸۴ | ۴,۳۰۵ | ۱۴,۲۸۹ |
| دهدادی | ۳,۲۷۹ | ۱۰,۸۳۴ | ۱۴,۱۱۳ |
| مزار شریف | ۶,۸۵۲ | ۶,۵۶۶ | ۱۳,۴۱۸ |
| کشنده | ۶,۲۹۴ | ۶,۶۱۵ | ۱۲,۹۰۹ |
| زاری | ۸,۱۰۷ | ۳,۹۸۱ | ۱۲,۰۸۸ |
| شولګره | ۳,۶۳۸ | ۵,۱۹۰ | ۸,۸۲۸ |
| دولت اباد | ۶,۹۳۷ | ۱,۷۹۹ | ۸,۷۳۶ |
| کلدار | ۴,۶۰۱ | ۰ | ۴,۶۰۱ |
| شورتیپه | ۳,۴۸۱ | ۶۳۹ | ۴,۱۲۰ |
| چمتال | ۱,۱۹۵ | ۱,۹۳۲ | ۳,۱۲۷ |
| شهرک حیرتان | ۱,۷۶۶ | ۰ | ۱,۷۶۶ |
| چارکنت | ۱,۳۳۰ | ۱۱۹ | ۱,۴۴۹ |
| مارمل | ۹۷۷ | ۱۶۸ | ۱,۱۴۵ |
| عمومي مجموعه | ۱۰۹,۸۴۵ | ۷۱,۶۶۲ | ۱۸۱,۵۰۷ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې


دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د هغو داخلي بېځایه شویو په اړه چې خپل اصلي سیمې یې پرېښې هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښیي).


**۱۳،۵۴۸**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې


**۹۵٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۶۱٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۳۹٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان


راسـتانه شـوي داخـلي بېځایـه شـوي هغـه افغانـان دي چـې خپلو سـیمو تـه چې ارزول شـوې سـیمې دي او پخوا یې پرېښـې وې بیرته سـتانه شـوي دي. دوی پخوا له دې سـیمو څخه تللي ول ترڅـو د وسـله والـو جګړو، تاوتریخـوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښـنې او طبیعی پیښـو یا د انسـان په لاس جوړ شـویو پېښـو له اغېزو څخه خوندي ووسي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شـوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د راسـتانه شـوي داخلي بېځایه شـویو کسـانو هېڅ معلومات نشـته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښیي).


**۱۹,۳۲۹**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي


**۹۴٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي

**۲ څخه ۱**
پخوانی داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۲ ولسوالیو ته راستانه شوي: چمتال و زاري (۴۸٪)

**۴ څخه ۱**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۳۱٪ کسان چمتال ولسوالۍ ته راستانه شوي



د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ کاني

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا موديې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي. په ۲۰۱۸ کال کې بلخ ولایت ارزول شوی نه وه له دې امله د ۲۰۱۸ کال لپاره د کډوالو هېڅ معلومات نشته (ټول چارټونه د ۲۰۱۸ کال معلومات صفر ښيي)


**۷۹،۰۸۱**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۱۴،۷۸۷**
اروپایي هېوادونو ته تللي دي (۱۹٪)


**۵۱،۱۴۶**
ایران ته تللي دي (۶۵٪)


**۱۲،۰۲۶**
پاکستان ته تللي دي (۱۵٪)




# سکتوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکتورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | نهر شاهي | ۴۷,۳۷۶ |
| ۲ | خلم | ۱۷,۰۹۰ |
| ۳ | بلخ | ۱۶,۴۵۲ |
| ۴ | چاړ بولک | ۱۴,۲۸۹ |
| ۵ | دهدادي | ۱۴,۱۱۳ |
| | **عمومي مجموعه** | **۱۰۹,۳۲۰** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | نهر شاهي | ۱,۵۷۵ |
| ۲ | چمتال | ۳۹۱ |
| ۳ | زاړي | ۶۰ |
| ۴ | دهدادي | ۵۰ |
| ۵ | شولګره | ۴ |
| | **عمومي مجموعه** | **۲,۰۷۹** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زاړي | ۱۱,۷۳۵ |
| ۲ | خلم | ۶,۰۹۵ |
| ۳ | دولت آباد | ۳,۳۲۷ |
| ۴ | بلخ | ۳,۱۹۱ |
| ۵ | کلداړ | ۲,۷۳۴ |
| | **عمومي مجموعه** | **۲۷,۰۸۲** |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیایي‌ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زاړي | ۱۰,۹۳۷ |
| ۲ | چاړ بولک | ۸,۲۲۳ |
| ۳ | خلم | ۶,۹۰۳ |
| ۴ | بلخ | ۶,۷۸۴ |
| ۵ | کشنده | ۴,۷۲۶ |
| | **عمومي مجموعه** | **۳۷,۵۷۳** |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | نهر شاهي | ۴,۱۸۴ |
| ۲ | کشنده | ۲,۴۴۴ |
| ۳ | بلخ | ۱,۹۲۴ |
| ۴ | چاړ بولک | ۱,۷۴۰ |
| ۵ | خلم | ۱,۴۴۹ |
| | **عمومي مجموعه** | **۱۱,۷۴۱** |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| ردہ بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | زاړي | ۱۰,۹۲۰ |
| ۲ | چاړ بولک | ۱۰,۶۹۱ |
| ۳ | بلخ | ۸,۸۴۹ |
| ۴ | کشنده | ۸,۰۹۳ |
| ۵ | دهدادي | ۶,۷۲۳ |
| | **عمومي مجموعه** | **۴۵,۲۷۶** |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | بلخ




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### د کړکیچ له امله د هر څه له لاسه ورکول

محمد نظر اصلاً له فاریاب ولایت څخه ده. هغه ۲۳،۲۰۷ داخلي بېځایه شویو له ډلې څخه ده چې د بلخ ولایت نهر شاهي ولسوالۍ کې ځای پر ځای شوی دی. هغه کیسه کوي چې د فاریاب ولایت په شیرین تګاب ولسوالۍ کې یې یو عادي ژوند پر مخ وړه. هغه د بزګر په توګه کار کاوه. دا ټولو د ۲۰۱۷ کال په جنوري میاشت کې هغه مهال بدلون وکړ چې بلواګرو د هغه په کلي کې د افغان ملي اردو په یو مرکز برید وکړ.

د هغه مېرمن چې هغه مهال اومېندواره وه خپل کور ته نږدې یو پټي کې یې کار کاوه. جګړه څو ساعته اوږده شوه او یو راکټ د هغوی د کور په دیوال ولږېده. له دې پېښې وروسته د محمد نظر مېرمنې روحي ضربه ولیده.

د محمد نظر مېرمن ناروغه شوه او هغه د خپل د مېرمنې د درمل پیسې نه درلودې نو ځکه د محمد مېرمن له خپل زوی سره چې لا زېږېدلای هم نه وه یو ځای مړه شوه. دا د بلواګرو او دولت ترمنځ د جګړې پیل وه. د ورځو په تېرېدو سره وضعیت مخ په خرابي روان وه او محمد نظر نشو کولای هلته کار کولو ته دوام ورکړي.

د ۲۰۱۷ کال په مارچ میاشتې کې محمد نظر پرېکړه وکړه چې مزار شریف ښار ته کډه وکړي او د خپل د ورور کور ته ولاړ شي ترڅو وکولای شي هلته دنده پیدا کړي او خپلو پاتې څلورو ماشومانو څخه ملاتړ وکړي. که څه هم د ځینې کورنیو ستونزو له امله هغه ونشو کولای د خپل د ورور کور کې پاتې شي. اوسمهال هغه له نورو داخلي بېځایه شویو کسانو سره په نهر شاهی ولسوالۍ کې په یوې خیمه کې ژوند کوي.

”زه کولای شم په اونۍ کې درې ورځې د مزدورکار په توګه کار پیدا کړم خو زه د دولت او نورو سازمانونو مرستو ته په تمه یم.“

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندي ووسي.



د نهر شاهي ولسوالۍ ډېریو داخلي بېځایه شویو په شان محمد نظر په یوې خیمې کې چې ځمکې لاندې لاره لري له خپلو ماشومانو سره ژوند کوي. هغه په ډېرو ستونزو دومره پیسې پیدا کوي چې کورنۍ یې ژوندۍ پاتې شي او په بې صبرۍ سره د مرستو په تمه ده. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada

MOFAT

NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS

ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION

Co-funded by the European Union

په همغږي سره